# په سلګیو کې موسکا

## دشعرونو مجموعه

## احمد فؤاد لامع

WWW.SAMSOOR.COM

د کتاب چاپ ټوله حقوق د خپرونکي او دانلائن حق ئی یوا ځي د سمسور پاڼي سره
محفوظ دي

# سریزه

احمد فواد لامع مې په هغه لومړنۍ لیدنه کې په زړه خوږ ولګېد. تر هغه وخته مې دی د یوه تکړه ژورنالیست او خوږ ژبي ویاند په توګه پېژاند.
دده احساسات، خبرې او کړه وړه به مې چې لیدل، تل را سره دا پوښتنه وه چې لامع ولې شاعر نه دی؟ تر هغې ورځې مې دده شعرونه په مطبوعاتو کې نه و تر سترګو شوي او نه مې په ادبي غونډو او مشاعرو کې لیدلی و. یوه ورځ یې له نورو پاڼو سره، خپل یو شعر هم راووړ چې ویې ګورم. ښکلی شعر و، ومې لوست او خوند مې ترې واخیست.
وروسته له هغه راته ښکنده شوه چې لامع صاحب نه یوازې ژورنالیست او ویاند دی بلکې ښه شاعر او تکړه کیسه لیکوال هم دی خو لا زموږ په ادبي کړیو کې ډېر مشهور نه و. رښتیا زیات شمېر شاعران شته چې ډېر مشهور دي خو ډېر ښه شاعران نه دي او ډېر ښه شاعران شته چې لا ډېر یې د شاعر په توګه نه پېژني. که اجازه وي، لا دا به هم ووایم چې شته داسې کسان چې شعرونه یې نه دي لیکلي خو زما په اند شاعران دي. زه داسې کسان پېژنم چې په عادي خبرو کې یې د شعر جوهر پیدا کولی شو.
د ازادي راډیو خپرونو ته کله کله له کلیو څخه ځوانان داسې شعرونه رالېږي چې د ډېرو مشهورو شاعرانو شعرونه یې مخې نه دي. د کلیوالو په لیکونو او عادي خبرو کې داسې څه لیدلی شو چې تر ډېرو نظمونو لوړ دي.
ددغو خبرو له یادولو څخه مې مقصد دا و چې زموږ عادت دی هغه څوک ښه شاعر بولو چې ډېر مشهور وي، شعرونه یې له راډیو او ټلویزیون څخه اورو او په مطبوعاتو کې یې تل لولو. راځئ چې په شعر قضاوت وکړو نه په شاعر.
احمد فواد لامع هم له هغو شاعرانو څخه دی چې په مطبوعاتو کې یې ډېر شعرونه نه خپرېږي او دا لومړني شعرونه یې د نوښت زیری له ځانه سره لري:

بیا مې ځان وموند لالهاند د برخلیک په کوڅې
بیا د تاریخ پر خلورلاري باندې ودربدم
بیا مې د شک څپو د فکر د دریاب پر مخې
خپل وزرونه د توپان په ښه وغوړول
د پرون اوښکې مې تر اوسه پورې سترګې ځاري
زه د هغو تر شا راتلونکی مې خړ پړ وینمه.......

دا د ښاغلي لامع د شعرونو لومړۍ ټولګه ده. په دې ټولګه کې د غزلو، څلوریزو، مخمس، چاپاره، نظمونو او ازادو شعرونو ښې بېلګې راټولې شوې دي. شاعر هم په مقفع شعرونو او هم په ازاده شاعري کې بریالی بریښي:

د تقدیر په تور ځنګلهٔ کې لالهاند وم
د سیندونو د موجو په شان څپاند وم
زړه مې تنګ و ددې دهر له چوپتیا نه
شوم ستومانه له ژړا نه، له خندا نه
.....تر پایه

یا:

تهٔ شبنم شه د نرګسو، زه به اوښـــکه توپاني شـم
تهٔ رنګیـــنې وربخې راوړه، زه به مینه باراني شم
تهٔ دې سترګې کړه راغبرګې، مړینه ژوبله دې زماوي
تیز ناوک دې راګوزار کړه، زه به موخه صیادي شم
...تر پایه

د لامع غزلونه صمیمي، ساده او روان دي. په غزلو کې ښکلي ژبني او تصویري ترکیبونه کاروي، وزني نیمګړتیا نه پکې تر سترګو کیږي:

رانه غوښتي مې دلــدار دي یو څو کرښې
د زخمي زړګي غمخوار دي یو څو کرښې
دا مې ستـــرګو کې ســرخي د وینو نه ده
ستا د میـــنې له انګار دي یو څو کرښې
...تر پایه

لامع صاحب په دې ټولګه کې د ازاد شعر هم په زړه پورې بېلګې شته چې په دې څو کرښو یې بسنه کوم:
...خدایه ځراغ غواړمه
داسې د مینې ځراغ
چې سپینې وړانګې یې اتروشیندي

او دا د هیلو سیوری
د ژوندون لاره کې په ما پسې شي.

ښاغلی لامع مینه ناک انسان دی. دی په رېښتني مینې باور لري او هغه کسان غندي چې مینه تش یو هوس بولي. دغه راز کسان له مینې څخه رټل شوي بولي:
مینې پر تا باندې باور بایللی
تهٔ رټل شوی یې د عشق له کوره
تا یې په شونډو کې هوس لټاوهٔ
تا یې په غېږه کې اورونه غوښتل
هغې د مینې باران واوراوهٔ ستا پر دښتې
خو تا هغه سپېڅلي څاڅکي،
د نېشه ناک کوکنارو سرو ګلو ته
د ودې سا بلله....
په دې شعري ټولګه کې داسې شعرونه هم وینو چې د خپل شعریت ترڅنګ، داستاني ارزښت هم لري. د (***مانې***)، (***د خوناب ګلې***)، (***وروستۍ خبره*** ) او (***ګلونه وروسته***) شعرونه یې ښې بېلګې بللای شو.
د افغانستان ستر لیکوال او ادیپوه، اروانباد استاد محمد صدیق روهي به ویل:
"د هېڅ یو شاعر ټول شعرونه اوله درجه نه دي. "
د لامع صاحب په دې ټولګه کې هم ښایي یو نیم داسې شعر وي چې ستاسې خوښ نه شي. ما په دې وروستیو کې د لامع صاحب ځیني نور ښکلي شعرونه هم لوستي و چې په دې ټولګه کې یې نه دي چاپ کړي. داسې معلومېږي چې ښاغلی لامع مو نورو شاعرانه ښکلاوو ته نور هم په انتظار کې پرېږدي. لامع صاحب هځاند او زیارکښ شاعر دی، که همداسې خپل ریاضت ته ادامه ورکړي، په راتلونکي کې به که خدای(ج) کول، دده د لا ښو شعرونو لوستونکي واوسو.
دده د همدغې مجموعې د چاپ مبارکي وایم او د لا زیاتو بریو هیله یې کوم.
په مینه او درنښت
علم ګل سحر
کابل – خارندوی مېنه
د 1385 ل کال د لېندۍ 11 مه نېټه

# دغه ټولګه

ځيني کسان شعر او شاعري يو تفنن ګڼي او يا وايي چې هنر يواځې د هنر لپاره دی. خو زه پر دې باور نه يم. زما په اند ، لکه څنګه چې پوهانو ويلي هر انسان پخپل ذهن کې شاعر دی خو ځيني خپل د ذهن شاعرانه احساسات د کاغذ پر مخ ليکي، ځيني يې د انځورګرۍ په هنر کې څرګندوي او ځيني نور چې دا لارې ورته بندې ښکاري، په يو ډول نه يو ډول دغه سپېڅلي احساسات له خپل روان څخه راباسي او په هغۀ سره خپل د روح بار سپکوي.
زۀ دا ادعا نه لرم چې ګواکې د شعر په ليکلو مې ددغو احساساتو د وتلو لاره په بريا سره موندلې ده، خو فکر کوم چې د زړه له بې شمېرو غوټو څخه مې يو څو غوټې، نيمګړې خلاصې کړې دي. دغه غوټې که په کمزورو ټکو يا بيتونو خلاصې شوي وي، پکې خپله بې وسي منم او له تاسو هيله کوم چې پخپلې مهربانۍ دغه نيمګړتياوې له پامه وغورځوئ.

دغه وړه ټولګه مې هغې ته چې په ټول ژوند کې يې راته د مينې او
لورېينې درس راکړی، له ټولو څخه يې سپېڅلې، بې پايه او نه پرتله
کېدونکې مينه رابخښلې او په لومړي ځل يې زما بې سرو پښنو
ليکنو ته د شعر په خطاب سره، د ادبياتو ډګر ته هڅولی يم او همدا
راز هغۀ ته چې د زده کړې لاره يې راښوولې،
خپلې ګرانې مور رابعه لامع او ګران پلار شاه حکيم لامع ته
په مينه او درناوي ډالۍ کوم.

# غزل

د پاکو هیلو کربښې ، په خوبونو کې لولمه
تعبیر مې د خوبونو ، په خیالونو کې لولمه

د مهــر په مانا مې، زړه ایمان نه ؤ راوړی
خو اوس یې پاک سرود په معبدونو کې لولمه

کوږکږ د کوڅې نه یم چې به کربښې د لاس ګورم
تقــــدیر د خوبرویانو ، په باغــونو کې لولمه

حسین مې ځان ګڼلی ، کربلا یې کړه د مینې
اسمانه زۀ دې نیت په تنـــدرونو کې لولمه

د سترګو تور قلم مې، ستا انځور کې پاته راغی
د حسن صحیفې دې، په ســوچونو کې لولمه

د لاس غریبې ګوتې، اندېښنو په تاو راوستې
قسمت یې ستا د زلفــو په تاوونو کې لولمه

"لامع " ته یې کیسه کړه په ساده ساده نظمونو
لمنځنه چې یې وړوي، په شعرونو کې لولمه

رحمن مېنه
د 1385 کال لړم میاشت

# د دردونو تجلا

د تاپو په خبر رانغښتی یم غمـــونو
د هجران لمرمې پر سر باندې ځلاکړي

د ژوندون څپانده سیـــند په بهېدو دی
هر یو موج یې ارمانونو ته مې شاکړي

یک تنهایـــمه د ژوند په بېدیا کې
هوسونه راته لېري نه خندا کړي

چې د مینې غوټۍ توېږي له ښاخو شوې
زما نصیب ته ځکه هر بلبل ژړا کړي

چې د خیال و لوړ اسمان ته خپل نظر کړم
بخت مې توري وربځې مخکې راپیدا کړي

هر منظر د طبیعت ته چې زه ګورم
پکې درد مې له دردونو تجـلا کړي

د "لامع" د شعر قلم چې په ګډا شي
د ګوګل بسمل مرغه یې واویلا کړي

احمد شاه بابا مینه_کابل
*1384*

# د زړه خواست

لکه پردېس جانان چې وګوري څوک
داسې يې ماخواته راودانګل دې
ځان يې ورو چابک ګامونو باندې
راسره لارې سرکې جوخت جوګه کړ
خو وچې شونډې يې لاهسې،
يوې شکېدلې او سپېرې غوټۍ د ګلو په شان
سره ونه خوځېدې ! !

..................

نمجنې سترګې يې د تلو په لارې ښخې کړلې
فقط د لاس په خوله يې،
خپل د زړه خواست زما له لاسه وکړ
چې وور ورغوی يې څه ډک غوندې شو
بيا يې د مينې د وروستۍ شېبې په شانې کرار
زما د لاسونو ګوتې خوشې کړلې
او د زړه خواست يې چې يوه روپۍ وه
په سرو منګولو کې خپل ټينګ ونيوه

طلوع ټلويزيون
1382 د کب مياشت

# سیوری

د ژوندون لاره اوږده،
هیله د سیوري په شان
زما د رنځور وجود ځو چنده مې تر مخه درومي
او زه ستومانه لاروی د امید تنده په خولهٔ،
پسې ګامونه اخلم
خدایه ځراغ غواړمه
داسې د مینې ځراغ،
چې سپینې وړانګې یې اثر وشیندي
او دا د هیلو سیوری
د ژوندون لاره کې، په ما پسې شي

لمر تلویزیون
د 1385 کال لیندۍ میاشت

# یو څو کرښې

رانه غوښتي مې دلدار دي یو څو کرښې
د زخمي زړګي غمخوار دي یو څو کرښې

زما په مینه یې لا زړه نه دی روښانه
ورغلي تر دې ښار دي یو څو کرښې

بخت مې وکوت و کوږ کړته، راته یې ووې:
ستا ورغوي کې په شمار دي یو څو کرښې

د تقدیر کاتبه نور مې څور پرېږده !
پر تندي خو مې رابار دي یو څو کرښې

وې مې لنډ مې کړ مزل د خوارۀ وصل
وې لا پاته پر دې لار دي یو څو کرښې

دا د ژوند د هیلو شمعه ده، ویلیږي
چې راماتې په رخسار دي یو څو کرښې

دا مې سترګو کې سرخي د وینو نه ده
ستا د مینې له انګار دي یو څو کرښې

"لامع" ته یې په ښو ورته لیکه تل !
چې و یار ته دې یادګار دي یو څو کرښې

***کابل- رحمن مینه***
***د 1385 کال د تلې میاشت***

# ځانمرګي ته

زه د مرګي له تياري کندي څخه نه ويريږم
پام چې ډارن نه يمه
خو لږ څه صبر وکړه
ځکه تر اوسه مې جنت ته تلوسه نشته لا
زه د بې وسو بچو خولې ته مې ګوله لټوم
زه يې و تن ته د زاړه ټوکر جامه لټوم
زما د بچې سترګې چې سرې وې د پرون له لوږې
پر ما يې غږ کړ چې "راګوره ابا
ماته دې سپينه کتابچه د ښوونځي هېره نشي ! ! "
هغه مې هېرې نه دي !
زه به يې مور ته خامخا دارو درمل رسوم
پام چې ډارن نه يمه
خو لږ څه صبر وکړه
تا که د نورو په وژلو کړولو باندې
د جنت حورو ته خپل غيږ پرانيستې
خو زما د رنځورې ربړېدلې ميرمن
د درد نارې يادې دي
زه د جنت حورې دا دومره ژر نژدې نه غواړم
ته که د کفر په وژلو کې ميړانه ښيې
خو زه مسلم مې وينه نه دربخښم
ما لا تر اوسه د جنت له حرصه
نه اسلاميت نه انسانيت هېر کړی
باور په خدای کړه چې په لوږه مې نن
له کوره دغه کراچۍ ايستې ده
زه د مرګي له تياري کندي څخه نه ويريږم
خو په الله مې قسم
چې په هغې دنيا به
له دې تنهاکو نه په ډکو لاسو

ستا د کفن ګرېوان په ډاګه نیسم
زه به د خدای پر وړاندې تا وپوښتم
چې دې جنت ته د ورتلو په بدل
ولې بچیان دې یتیمان کړل راته
ولې دې کونډه کړه رنځوره میرمن
ولې دې بوره کړه سر سپینه بوډۍ
ولې دې وراره کړه بې وسه نجلۍ
زما د بچو لاس به د چا په وینو سور شي وروسته؟
هغه د کور میرمن مې
خدایزده چې چېرې به څادر د سوالګرۍ هوار کړي؟
ته که د کفر په وژلو کې مېړانه ښیې
تا که جنت ته خپل زړګی تود کړی
خوزه مسلم مې وینه نه دربخښم
زه به په ورځ د قیامت
هرو مرو د خدای په مخ کې له تا وپوښتمه
بس دا ده سا مې خیژي
نور نو په وینو رنګ شوم
خدایزده چې زما بچي به
زما د کفن پیسې له کومه راوړي؟
خدایه ته رحم وکړې
خدایه ته رحم وکړې

*لمر تلویزیون*
*د 1385 کال د وږي میاشت*

# ډغرى

د تورتمونو ښپې ماتې شولې
تقدير له سره خپلې لوبې پيل کړې
زه د تيارو په منځ کې ورک شوم لکه وور کوچنى
نه کومه لاره، نه د هيلې وړانګه
په هره پوله د تيارې بلا ربې بچې زيږوي
برى پيرى شو ، ايتونه شوم زه
خو دا زغملى نشم !
زه به له سره د تيارو ښامار جګړې ته بولم
زه به يې پوه کړم چې انسان يمه زه
تقدير به زما ډغرې بيا وګوري
خو که مې مټ ته څه تاويز وليکې
او ځابت د مينې راکړې
ماته به نوې دريڅې د هيلو پرانيزې ته
زه به له هغو دريڅو څخه لمن ډکه کړم
او د بزګر په شان به يې وشيندم پر تورو خاورو
تر څو رڼا غوندې راوټوکيږي
او دا تورتم موجونه
د ژوندانه پر ډګر ماته وکړي

***کابل-لمرتلويزيون***

# د اننګو غمي

ما د ستورو او د ځمکې
پټې مچې ولېدلې
چې له لېرې يې په مينه
يو له بله ځارولې
د يوې شپې لپاره
د ايمان ځلى برباد شو
د لمبو ګوتې شوې ښخې
په ځيګر د سرو خاورو
روح مې شرنګ ورکړ پايزېب ته
لکه مسته نڅاګره
خو ته نه وې چې نثار کړې
پرې غمي د اننګو خپل

کابل- د ميوند صالون
د 1385 کال د وږي مياشت

# ماڼۍ

د تیاره ځنګله په غیږ کې
یوه دنګه شان ماڼـــۍ ده
نرۍ لاره ده ورغلـــــې
پر هر ور یې لو کړۍ ده

............

پر شاوخوا یې دی خپور شوی
تور ځادر د بې غـــــــربیو
د چا پل یې مخته نشـــته
نه اثـــــر د رنګیـــنیو

.............

دا سې ښکاري چې بې وخته
تړل شـــــوې دا ماڼۍ وي
جوړیدو څخه یې وروسته
اچولې پرې کـــــړۍ وي

.............

هره دنګه مـــــــناره یې
په ملا غوټه ماته شوې
هر یو تاخ یې نـــړیدلی
د چـــــونیو ځاله شوې

.............

د ماڼۍ خاونـــــده ورکـــــــــه
بس یو تاج یې پروت په پلاز دی
خپله نشـــــته، حـــــکم یې نشته
خو واکـــــمن یې خیالي ناز دی

.............

دې ماڼۍ ته چې راغلـــې
هـــره پلا کومه شهۍ ده
هـــره هیله یې د مینـــې

په ورونو کې زنـدۍ ده

..............

دا مــانۍ نه ده، کلا ده
د لـــرغونو طلسمونو
جادوګر یې پکې نشته
خو اثر شته د سحرونو

.............

د ازل له ویش راهیـسې
دا مانۍ ده زما په پیڅکه
خلک وایي چې دا زړه دی
خو وتلی دی له سیـــکه !

طلوع ټلویزیون
کابل
د 1384 کال د وږي میاشت

# د غم نڅا

نن د اوښکو لبریز جام مې، په بستر د خندا اوړي
زړه مې ناڅي له غمونو، هر یو رګ په نوا اوړي

د وجود په کرونده مې، دا څه اور دی لګېدلی
چې له وهمه یې سیندونه، پاس په جګه له ما اوړي

درد میلمه و، اوس کوربه شو، لا به درد شمه پخپله
دا جوهر له کومه راغی، چې ناسور په دوا اوړي؟

څوک د مینې پوروړی، چا احساس ته غاړه ایښې
یو په وینو کې لمبېږي، بل د ژوند په سودا اوړي

چې په نرمه ژبه پرې کړي، خپل د مینې نری مزی
هره نرمه یې ښېرا شي، هر مرهم په سزا اوړي

د غاټولو په شپلو کې، ما د زړه لالونه غوښتل
څه خبر چې هره پاڼه، لکه زوز په ردا اوړي

دا یې ول پر ول کاکل دی چې یې قتل کړل ملکونه
که باور د بشریت دی، یو د بل پر قفا اوړي

لامع ته یې درننبت وکړه، ستا د شعر نوی استاد دی
هر یو موج ددې دردونو چې دې اوس په اروا اوړي

لمر ټلویزیون
د 1385 کال د وږي میاشت

# تنکی مینه

ښکلی خیال دې د خندا پریوت زما پرسترګو
لکه چې ړوند شومه، بې تا بل څه لیدلی نشم
ستونی مې بند شو په لیدو دې، ژبه لاله شوله
نه چې بې نومه دې پرخوله، څه نور ویلی نشم

مینه دې اور شوله، شغله شوه ټول راو ښغاړمه
ځان مې لمبه شو، هډ مې وسوځید، ځیګرمې کړم
نهٔ دې ستایلی شم زما مینې په داځو کرښو کې
نه چې ښایست دې راته مات کړهم د ذهن قلم؟

داځل مې هوډ دی چې ښکاره به دې لاسونه نیسم
د مینې راز به مې عالم ته رسوا واړومه
زه به مې خپل ټوټې ټوټې زړه درته مخکې کیږدم
د خاورو شویو هیلو غږ به یې دروا ورمه !

احمد شاه بابا مینه
کابل

# په سلګيو کې موسکا

ديوالونه راته خاندي
اسمانونه راته خاندي
د ژوند هره ائينه کې
ارمانونه راته خاندي

.......

هر سلګۍ مې شوه موسکنه
هر پرهر په رغېدا شو
نه چې ژوند دی نوی شوی
پرې اودم د مسيحا شو

.......

ځانګه ځانګه شوه له مينې
د حسونو زمزمه شوه
راکې نوی روح يې پو کړ
(سرتر پايه فلسفه شوه)

.......

ماته يې دومره مينه راکړه
چې له ځانه بيګانه شوم
ټول وجود مې يو غزل شو
هر اشنا ته ترانه شوم

.......

د تقدير کړۍ شوه سُسته
د "غنى" خيالي ادم شوم
پاس په عرش کې مې ګډا ده
کله زير او کله بم شوم !

***د غني خان دې شعر ته اشاره چې وايي:**
د موسکو ستړګو جانانه، لر له پښو مې کړه دا پړی
بيا مستي د خاورې ګوره او ټوپونه د ادم

کله شرنګ د هوا خوا کې کله زیر او کله بم
د تقدیر کړی که سسته، بیا زما ګډا ته ګوره
ستا د عرش په منارو کې، لیونۍ خندا ته ګوره !

# د زړګي دوا

کــه خنـــــدا کــه يې ژړا     کــه مکـــيز کــه يې ادا
کـه خوږې خوږې خبرې     کـه دعا کـه يې ښـــېرا
کـه غصــه او کــه يې قهــر     کــه يې شور کــه يې شنا
چې پيرزوېې وي لــه زړه نه     کــه زقــوم وي کــه دوا
چې مې سترګې پرې رڼې شي     کــه يې مخ وي کــه يې شا
د هجـران هره لمـحه يې     کــه سبـا وي کــه بيـګا
د الـفت پــه اتـــــهام يې     کــه بخشش وي کــه سزا
دغــه واړه مې زړګـي تــه     هم دوا ده هم شــفا
خو چې وو ايي جانان مې     پــه اخلاص او پــه صــفا:
چې پــه دې لويــه نړۍ کې
يار مې نشــتــه، بې لــه تا !

کابل- 1383
پــه پوهنځي کې د لکچر پر مهال

# لېمې

زما لېمې کمزورې نه وې
چې د اوښکو باران جوړ کړي
خو دا ستا تږو خيالو مې
پر سپېرهٔ ګرېوان، په مينه
سرې چينې وبهولې ! !

***کابل- رحمن مېنه***
***د 1385 کال د لړم مياشت***

# د هیلو ډېوی

د مینې و بورجل ته مې جانان کله راځي؟
ریښتوني ژوندانه ته مې ارمان کله راځي؟

تقدیره هتکړې دې زما د روح لاسونه شنه کړل
له نویو زولنو ســــــره جیلــوان کله راځي؟

په شپو مې له ښراغ سره د زړه لاره ښارله
چې دې زړې کلا ته به کاروان کله راځي؟

سپلیو مې د هیلو ډېوې مړې کړلې بې دریغه
د ژوند سرکشه اور ته مې توپان کله راځي؟

د زړه زخم ناسور شو، مسیحا ورلره بویه
پتې په لاس طبیب یې د درمان کله راځي؟

ددې بڼ و بهار ته اندیښنې د زړه ماران دي
هرګل یې شبنم ژاړي چې خزان کله راځي؟

ډېوې په ښېر "لامع" یم، هره اوښکه مې هسیېږي
لمــــــبو ته د ځوانۍ مې پتــنګان کله راځي؟

***احمد فواد لامع***
***رحمن مېنه*** - 1385

# د ژوند رموز

اې د ارمانونو ډکه ژونده زما !
په څه خاطر يې مرور له مانه؟
ما ستا په تنګو او تورتم کوڅوکې
ستا په غمجنو او ترخو شيبو کې
د برې ځرک ونه موند !

.................

اې د غمونو ژونده !!
ماستا په سره لمن کې،
په خواشينۍ هره ګړۍ تيره کړه
خو ما په دې لمن کې،
د خوښۍ خوند ونه موند !

..................

ژوندونه نه پوهېږم...
ته يې له مانه خپه؟
او که يم زه کمزوری
چې ان تراوسه پورې،
ما ستا رموز ونه موند ؟!

***نوی ښار_کابل***

# ستا لپاره

تل به دې حسن په ورېمــو د سبا ستايم ستايم
زۀ د بل چا نه يم رنګينې، زه خو ستايم ستايم

سا مې اخيستې وه اجل، چې ستا اودم ولګېد
اوس نو هـــر دم يوائې ستا لپاره پايم پايم

رحمن مېنه-د 1385 کال د لېندۍ مياشت

# د زړه ساز

د هجران سيوری په مېنه د لـمر راغی
په دردمن زړه مې ګوزار د خنجر راغی

ماخـــو نه وه ازمويلـــې دغه لاره
څو پرهوښ باندې راتلم دا کمر راغی

چې نصيب مې د تورتم ځنګلو په خبر شو
ماله هله د سپوږمۍ مخ قـــدر راغی

راتر غوږه مې ګوګل نه د زړه ساز شو
چې راوېښ شه اې غافله، سحر راغی

ما د مينې ډيوه بله کړه خپل زړه کې
نابېره پرې د مني ګـــذر راغی

زما له سترګو د ياقـوتو دانې څاڅي
پرې چې کله ستا د مينې اثر راغی

ما د يار لپاره خدای نه قاصد وغوښت
بد خبر يې د هــــوا په وزر راغی

واړه ښکلـې مې نظر نه شوه معدومه
چې بصر ته مې د ژوند دا سفر راغی

(لامع) ځکه ډېر کړيږي خپل غزل کې
چې په مخه يې د ژوند لوی ټکر راغی

***کابل***

# سپيره شناخته

بيا مې ځان وموند لالهاند د برخليک په کوڅې
بيا د تاريخ پر څلورلارې باندې ودرېدم
بيامې د شک څپو د فکر د درياب پرمخې
خپل وزرونه د طوفان په بېه وغوړول
****
د پرون اوښکې مې تراوسه پورې سترګې خارې
زه د هغو ترشا راتلونکی مې خړپړ وينمه
د تېرو تورو شپو کيسې مې لاتر اوسه پورې
د غوږ په تشو ګړنګو کې سوې کړيکې وهي
چې يې پګړۍ د ابا ښکته کړه پردو مخې ته
چې يې ځوانانو نه زما د وطن بڼ خالي کړ
چې يې کوڅې زما د پېغلو پېغلو نجونو ځيني
د بېشرمۍ په چړو پرېکې کړلې
چې يې د دين او د افغان په نامه لوبې وکړې
چې يې وطن راته ددې زمان دوزخ جوړ کړلو ،
هغوی مې ټوله خپل وو ! !
****
اوس که د وينو او جګړو ښامار مې کورته راځي
چې يې د وينو او ورانيو ننواتې کې يې
خپل د ايمان او عقيدې پسه حلال کړې راته
زه چې يې غاړې ته نظر کړم نو پوهېږمه چې ،
هاغه د عذر پړۍ !
ددې په خوښې يې په غاړه ځوړند شوی نه دی
نوبې د مکر او تذوير څخه دا ډکه پلمه
په زړه او خوله باندې منلی نشم

زه دهیوا د پرونۍ سرې ورځې مې
په دغو سپینو ، کم شېبو تالندو ،
رڼې لیدلی نشم
****
زه د بابا پرسپېرې شناختې مې ګردونه وینم
چې د پردو له قهرجنو ګامو
پرې پرېوتلي او پرېوځي پسې
که يې رڼه کړم نو پړونۍ د ابۍ به مې بيا
هغه د وینو او جګړو ښامار په سرو ګوتو کې
ټوټې ټوټې په خاورو ولړل شي
****
بیا مې ځان وموند لالهاند دبرخلیک په کوڅې
بیا د تاریخ پرخلور لارې باندې ودرېدم
بیامې د شک څپې د فکر د دریاب پر مخې
خپل وزرونه دطوفان په ښه وغوړول

احمدشاه بابا مېنه_کابل
د 1383 کال د وږي میاشت

# ستا تصویر

د تقدیر په تور ځنګلهٔ کې لالهاند وم
د سیندونو د موجو په شان ځپاند وم

نه مې سترګې په ښکلا وې بوختې شوې
نه مې سپینې په کوم اور وې وریتې شوې

زړه مې تنګ و ددې دهر له چوپتیا نه
شوم ستومانه له ژړا نه، له خـــندا نه

د ماښام له ازانـــګو سره مې شپه وه
سا مې ورکه د مرګي په کور دېره وه

خوب ورغلـــی تر لیمو و د خوبانو
د ډېوو لمـــبې پرتې پر باړخوګانو

یک تنـــــها ومه د شپې په بیـدیا کې
په تن چوپ وم، خو یاغي وم په اروا کې

د خیالـــونو په ټالونو زنګـېدمه
د ریښـــتوني ژوند له نومه مرېدمه

نابېـــره مې تر سترګو ستا تصویر شو
له رڼا یې خوار خراغ په زړهٔ زهیر شو

د تیارهٔ ماښام په غېږ کې همنوا شوم
تنها نه وم اوس نړۍ ته په خندا شوم

د حسرت اوښکې مې وچې له ليمو شوې
ددې باغ بوراوې مستــې په ورېمو شوې

شنه نغمه مې د عشـــق واورېده شيرينه
په رګـــــو مې شوه ورګډه د تاک وينه

ما ويل زه به يم يواځې اوريدونکی
ددې ښکلي ساز يو سری نځېدونکی

په تيارو کې مې رڼاوې ولـــــيدلې
په روان کې مې ډيوې وې بلــېدلې

د خوښۍ نه مې بستــــــر راباندې تنګ شو
غم مجنون شو سرګردانه رنګ په رنګ شو

خوب مې سترګو نه اسمان ته کډه وکړه
د شعــر تخم مې په زړه کې وده وکړه

د يو ليک تکل مې وکـــــړو اشنا ته
له دې شاړې ځمکې، شنې د ګلو خوا ته

چې په ټکو يې سجدې کړم د ښېګڼو
د موسی په څېر يې ولمنځم بې پڼو

کابل- رحمن مېنه
1385 لمريز کال

# د مینې شور

د هجر و دردو ته دې، خیال د زړه ټکور دی
بدل د دې احسان دې، هم زما پر اورېو پور دی

لېمې که مې په عجز، په تړلو شونډو ژاړي
سینه مې دیوانه ده، ستا د مینې پکې شور دی

قــدم قــدم سلګۍ دي ، هدیره د ارمانو ده
دا خاوره غم لړلې، بد نصیب یې په غم تور دی

مېلمه دې د یادو یم ، خدای خبر چې ته پخپله
دچا په یاد سوځېږې او منزل دې دچا کور دی؟

هلال دې حلال کړي، د تنکیو زړونو ستوري
اسمانه نه چې داځل، د لورو وار دې زما په لور دی

کابل- لمر ټلویزیون
د 1385 کال د لېندۍ میاشت

# د خیالونو ترانې

د افغان پر عضمتونو ، بیا راګډې زلزلې دي
د سرېن پر کهول باندې، بیا د ظلم انګازې دي
بیا د بیټ نیکه له پښته بهېدلې سرې ولې دي
بیا سره کړي خپل لاسونه، له دې وینو زمانې دي

بیا د سپین غره په لمن کې، د پښتون بابا نارې دي
برکت له خدایه غواړي، پر اولادې سترګې سرې دي

د پکهت پراوسنې حال، د زردشت ریشې ژړا کړي
بایزید په خپل مرقد کې، له دې حاله واویلا کړي
اهریمن له ډېر خوښیه ،د فلک لاس ته خندا کړي
سرې لمبې دې بلې شوې، د پښتون کورکې نڅا کړي

تیرو شویو زمانونه، چې ورپاته څه اسرې دي
ننني پښتون په لاس کې، خپل د کور تورې ایرې دي

پرګونډو یې پکتیسیا کې، سکندر غوندې اتل کړ
د غورمځکو کې یې تورې د عربو مات یرغل کړ
د چنګیز خونړی اس یې، د بامیان په غروکې شل کړ
د انګریز ماته یې جوړه، ونړۍ ته ستر متل کړ

خو چې ګورم دغه ټولې، ماته اوس څو افسانې دي
د تاریخ پاڼو کې پټې، د خیالونو ترانې دي

نوی ښار_کابل

# د خوناب کلی

بېګا مې خوب ولیدهٔ
یو داسې خوب چې،
له ډېره برمه او وحشته یې ژوندي ویرېږي
خوب کې مې لار وهله
له لامکانه د خوناب کلي تر لرو ځنډو
اسمان کې ستوري نۀو
بس توره وربځ وه
چې د لمر ژېړ او نیمه ژواند مخ یې په تور کفن کې
د غرونو هاخوا هدیرو ته و سوغات ورکړی
لاندې پر ځمکه باندې
د لارې دواړه غاړې
د کروندو په بوټو پټې وې تر پایه پایه
بوټو و قد کاږلی
د بنیادم ترونو
د کروندو له منځه
یو عجیبه شاني اواز پورته و
لکه د ویر په بڼ کې،
له خوشحالۍ نه د کارغانو چېغا
لار مې کږه کږه کروندو په لوري
خدایه دا څه مې لیدل؟
د بوټو منځ کې د مارانو بچو
د ټولګیوالو په څیر،
د کرکې ساز په یوه خولهٔ چلاوهٔ
په دنګو بوټو مې نظر ولګېد
له هر وښکي یې شین لړم و ځوړند
ژر مې تکل د ستنېدلو وکړ
لاره اوږده وه، اوږده
او زه ستومان مسافر

له لامکانه د خوناب تر کلي
په یو نفس وم روان
لاره ختېینه شوله
ختې راپورته شوې، راپورته تر زنګونه زما
خو ما لا لار وهله
له دې هیبته او سترېیا نه مې شوې نارې وچې
څو مې شرشر د یو کاریز واورېدۀ
لاره مې لنډه کړه اواز په لوري
ژر مې یو څو لپې تر خولې کړې ځیني
خوله مې تروه شوه تروه
ګوتې مې ښویې شولې
چې مې کاریز کې ستر‌ګې ښخې کړلې
اه خدایه، څه مې لیدل؟
وینو پر تیږو خپل سرونه وهل
په چیغو چیغو راترشا شومه ختېینې لار ته
او په ستومانه سا مې
تنګو کوڅو ته د خوناب د کلي
خپل قدمونه بیول
د کلي خواکې مې یو اور ولیدۀ
چې ورترغاړه یې سړیو کتار
تورو جامو کې اتڼونه کول
او لږ څه ها خوا، پر نمجنو ایرو
د ښاپېرو بچو ژړا کوله
ستونی مې وپړسېدۀ
غوښتل مې چیغه وکړم
خو غږ مې نۀ راوتۀ
ختېینه لاره مې راخپله کړه، مزل مې ونیو
څو د خوناب کلي و زړۀ ته مې ځان ورساوۀ
تېوله خوله خوله وم
شببه مې دمه وکړه

چې نابېره مې اواز د ناقوسونو واورېد
څو بنیادمه راپیدا شول له کږو کوڅو نه
سرونه ښکته، څادرونه په سر
په ښي امسا ، په چپ ناقوس نیولی
چې مې کتل یو څښتن یې راووست
په ځنځیرونو او رسیو کې پټ
مخ یې په وینو رنګ ؤ
او په بې واره یې له شونډو دا خبر راوته:-
"مځکه ګردې ده، ګردې
مځکه ګردې ده، ګردې "
ناقوس په لاس سړیو
د څښتن زخمي لاسونه، په صلیب وټوکل
څو شېبې وروسته په ټول کلي کې یوازې زۀ وم
او یو صلیب چې پرې ورځوړند و د څښو خاوند
بېرته مې لار ونیوه
خو ډېر ستومانه ومه
یو ځل مې شاته شو نظر، پر دا وهلې لاره
بیا مې کړې کړې خپلې سترګې د راتلونکې په مخ
د څښتن خبر مې غوږ کې ازانګې جوړې کړې:-
"ځمکه ګردې ده، ګردې
ځمکه ګردې ده، ګردې "
یو ځل مې لاس کړ د لار ختو ته له ډېره قهره
او په کوکارو مې ورواړې کړې، صلیب په لورې
خو دۀ یوازې خپل په وینو لمبېدلی، سور مخ
کرار، کرار راته راواړؤ لږ
او په ترخه خندا یې
زما له لمنځنې نه مننه وکړه !

رحمن مېنه- کابل
د 1385 کال د لړم میاشت

# رنګين باغ

د هستۍ په رنګينو کې
د رنګونو په باغو کې
يو لوی باغ دی چې يې کرکه
له هر ښکلي رنګ را زيږي

په ښکاره ګلان يې ډېر دي
يو تر بله غاړې غړي
خو تر هرې پاڼې لاندې
نفرتونه دي، خوټيږي

کله يو رنګ زورور شي
پر دا بل وزر کړي پورته
کله ورک شي له دې باغه
کله نوي راټوکيږي

دا رنګين، ښکلی زرغون باغ
د دنيا ستره نقشه ده
ښه په ځير يې ننداره کړه
که نه ژر به بيا بدليږي

رحمن مېنه- کابل
د 1385 کال د لړم مياشت

# خاورینه حوره

یوه حوره ده خاورینه
شنه خندا یې نمکینه

خوږې شونډې یې شکرې
په سر توره په مخ سپینه

د جنت وږمې یې راوړې
دوزخونه پرې تړینه

هډیرې یې لړزولې
اوس ژوندو نه اخلې وینه

شیخ که ولیده ناڅاپه
دین مذهب به ورنه ځینه

ها چې حسن کې یې خو کړې
ته یې ځای شې تاترینه

د الله د لاس جوړښت دی
انځور شوې ده په مینه

د لامع د خیال کتاب دی
هره پاڼه یې زرینه

کابل - لمر ټلویزیون
د 1385 کال د وږي میاشت

# غېچ

(کاشکې مې ګوګل کې د زړه په ځای ډبره وای)
نه وای زه زهیره، په ژوندون کې زه سخت سره وای
نه و مه روان پسې ، تقـــدیر ته برابره وای
نه و مه حساس ، د ژوندون مخکې بې اثره وای
(جوړ هم له ډبرو نه زما سراو ککره وای)

***

نه مې وای زړګی ـ سوری د ظلم په نشتر باندې
درد و الم نه وای بری شوی زما ځیګر باندې
نه وم ویلې شوی د ژوندون په هر ټکر باندې
(غم لکه د ژرندې ګرځیدای زما په سر باندې)
( پیښو د زمان سره مدام زما ډغره وای)

***

نه وای کــــړیدلی د غـمونو له هر نم سره
و مه بې پروا زه او خوشحاله له هر دم سره
نه وای زهیر شوی زما زړه له هر ماتم سره
(زړه مې نرم نه وای چې ژړلی مې هرغم سره)
(غم زما له لاسه ژړیدلای در په دره وای)

***

لاس مې وای نیولی په سختۍ ـ کې د مظلوم بشر
دوی ته مې راوستی وای په جبر د ژوندون سحر
زه و مه خنجـر برابر شوی د ظالم ټـــټر
(زه لــکه د تندر راالویدلـــی د ظالم پر سر)
(تیرو بیر وتلی یې له زړه او له ځیګره وای)

***

(ما د جابرانو ډبرین زړونه مات کـړي وای)
دوی مې د مظلوم د حق لپاره ډیر ځپلي وای
ښیرې ددې منحوسو مې و خلکو ته ښوولي وای
بیا مې د ناحق وینو بدل کې دوی وژلي وای
(غېچ د ماتو زړونو مې اخیستی له جابره وای)

# د نرګسو شبنم

ته شبنم شه د نرګسو ، زه به اوښکه توپاني شم
ته رنګيني وربخښې راوړه، زه به مينه باراني شم

ته دې سترګې کړه راغبرګې، مړينه ژوبله دې زما وي
تيز ناوک دې راګوزار کړه، زه به موخه صيادي شم

که دې زړه راڅخه وکيښ، که دې ړوند کړمه په سترګو
که دې ساکړه راته ګرانه، پر ډېوې به دې ستې شم

زه به ژوند درنه واری کړم، خپل وجود به درلوګی کړم
که دې زړه په لاس کې راکړ، زه بسمل به شيدايي شم

که د هجر په روژې دې، نری مياشت ووځي د وصل
پر کعبې به دې راتاوشم، يو اذان به بلالي شم

هيله مه ماتوه ګوره، د ټول ژوند متاع مې دا ده
که اميد دې رانه واخيست ، زه به ځان ته تباهي شم

غم د زړه مې دومره ډېر دی، چې يې وچه کړه را ژبه
که نه بڼ کې د اشعارو، زه "لامع" به "جهانی" شم

رحمان مېنه_ کابل
1385

# وروستۍ خبره

هيښنه پاته وه له ميني
په کرار يې راته ووې
چې که موږ سره جلا شوو
ستا وروستۍ خبر به څه وي؟
زه يې لا هيښ کړمه له ځانه
هک حيران ورته ولاړ وم
وې عجيبه مې پوښتنه
خو ځواب ته مې تلوار دی
له خياله رابهر شوم
د هجران غم مې په زړه شو
ورو مې وويل چې اخر به
زه اول کلام تکرار کړم:-
پرما ګرانه يې له هرڅه!
پرما ګرانه يې له هرڅه!

کابل-رحمن مېنه

# اسمان ته

اسمانه مورِ خو څه دښمن دې نه و
چې دې زمورِ هيلې په رِلی وویشتې
مورِ خو له ورېځو دې باران وغوښتۀ
دا سې باران چې ،
له سپینو وریځو نه پر تورو زړونو
د عشق پیغام وشیندي
او بیا دې لمر په سترګکو کې لرِ موسکی غوندې شي
پخپلو نرمو وړانګو
د محبت تخم زرغون کړي پر دې وچو ، سپېرو
خو خدا ېزده نه پوهېږم
چې دا مو ژبه شوله لاله او خبر نیمګړې
که ستا تر دره دغه سوې نارې درنه غلې؟
چې تنکۍ هیلې شوې تعبیرې په نسکورو کړنو
ستا تورو وریځو مو د ژوند پر دې خاورینو کوڅو
د غم نېزونه مات کړل
د هر پتېي پر ځای مو شنۀ شول پر کوډلو وابنۀ
دا سې خو مورِ نه غوښتۀ ! !
اسمانه ګوره چې دښمن دې نه یو
دا ځل ښکاره درته نارې وهمه
که دې بیا وغوښتل څه واوروې
دا تورې وریځې دې له مخ پاکې کړه
د دغو تورو بلاګانو ویروونکې غرا
زمورِ د ماشومو غوږو خولې نه لرِ څه لېرې ساته
اسمانه زه دې سپینو وریځو ته لمن غوړوم
خو تورې نه قبلوم
نور خو به بس وي د نیزونو سیلابونو څپې
دا د غمجنو ، در په درو بې پلرونو نارې
اوس دې ځان برګ کړه چې ښکلا پیدا شي

له سپينو وريځو دې رڼا پيدا شي
تخم به وشيندو نفرت څخه پر ډکو زړونو
وده يې تا ته سپارم
ته يې روزنه وکړې
ته يې پالنه وکړې

کابل- لمر ټلويزيون

د 1385 کال د تلې مياشت

# باران

دغه ښاخکي د باران دي
چې پر ځمکه راوریږي
که قطره قطره ده اوښکه
چې له وربځو راڅڅیږي

نه، د ځمکې وړو بچیان دي
خپلې مور ته راستنیږي
چې په مینه مینه داسې
پر سینه یې ورلګیږي

یا د سولې یو لښکر دی
د اورونو کربلا ته
پر کبابو زړونو اوري
مجنون مړ کړي ولیلا ته

هر نغمه یې ترانه ده
د خوږمنو زړو غوږو ته
هر یو ضرب یې یو مقام دی
د سپتار نري تارو ته

دا سینه د وربځو چوي
د دنیا له هر بېداده
که د ښاخکو له هجرانه
په غوغا ښکلې بریښنا ده

زړه راپاڅه په نڅا شو
د دې شنه باران هر ساز ته

کله زیر شو کله بم شو
کله وخاندو غماز ته

د شنو پاڼو ، شنو ګلبوټو
شینکي باغ په شان، بې باکه
په باران څڅې لمدې کړو
وینه وزبېښو له تاکه

خپلې لپې به کړو ډکې
له دې سپینو مرغلرو
یو تر بله به یې ځار کړو
په خوږو خوږو خبرو

د یوې شیبې لپاره
غم به هېر ددې دنیا کړو
زه، باران او ته درې واړه
پر واټو ګډه نڅا کړو

که خندا که یې ژړا ده
لوړ اسمان به پرې خبر وي
که د سرې ځمکې دوا ده
ددې غرو به پرې نظر وي

مونږ ته بس د مینې شور دی
چې مو زړونه سودا یې کړي
پر وجود مو را وربږي
رانه لېرې جدا یې کړي

*کابل-لمر تلویزیون*
*د 1385 کال د تلې میاشت*

# تالاشوې جدايي

زړه راپاڅه چې د عشق ميګساري ده
په دنيا کې يو بـــل رازي بې تابي ده

د شيرين قصرکې بيا نوى اوازدى
په بيستون کې نوې چيغه فرهادي ده

د صنم له سترګو بيا ناوک وريږي
پرېکرد ميـــــنې بيا صف ارايي ده

بيامې خيال ته دجانان يوسه چې هلته
تالاشوې د ذهــــنونو جـدايي ده

د بيلتون غمونه پس له دې ته مه کړه
چې د هجرغم اوس لويه رسوايي ده

د جانان د شونډو رنګ لره په ځان کې
بې له دې رنګه مې سا کلـه باقي ده؟

نوم يې ساته پخپل هــروار رپيدو کې
شيرين نوم يې زماوژوندته روښنايي ده

د مخ لمر يې تل په ځان کې لامع ساته !
چې غروب يې ستا دعمر خاموشي ده

*کابل-نوی ښار*

# کلونه وروسته

کلـونه وروسته ما هغه ولـیده
چې د پخوا په شان یې ماته کتل
نه لـه دردونو ، المــونو نه مې
نه له ماتم، نه له غمونو نه مې
نه د زخمي زړه مې خبره وه ،لا
ترپخوا زیاته مې نشـــه ولیده
***
مخ یې دژوند په خوشحالیو سور وو
د خولې غونچې کې یې خندا بریښېده
زه یې لا هســې یو پردی ګڼلم
خپله شامـــته مې چـپه ولیده
***
زړه مې لیدو سره یې ولوید یودم
ساه مې شوه بنده ،له دنیا پردی شوم
نه خوشحالي وه ، نه د غم څپه وه
نه پوهیدم چې څه احساس لرمه؟
چې له نژدې مې ها شـیبه ولیده
***
د ژوند سیلۍ راته طوفان ښـکاره شو
چې زما دهیلو کور یې وران کړ راته
او ددې وران کـور د ټوټو له پاسه
اوس ږدي قدم زما د خوبونو لیلا
د میـــنې ماته مې درنه ولــیده
***
نه مې دا وس وو چې شم تم ورسره
نه مې ومخ ته یې په ځیرکتای شوای
ښایي د میــنې شــرمنده یې اوسم
اویا دخپل مات شوي زړه په کسات

## ترینه اوس کرکه او نفرت لـرمه!

# غرمزلی

سپیره ټکنده غرمه ده
لړې لارو کې تاویږي
غرمزلی پرمخ درومي
خپلو موخو ته هسیږي
***
مزلونه یې لنډ کـــړي
هم په اوړي، هم په ژمي
هم په واورو ، هم په دوړو
تور تور غرونه یې ترشا کړي
لا راتلونکي ته هخـــیږي
***
هم یې تپ پر تټر باندې
هم مډال دی د ویاړونو
د اوږده سفر په لړ کې
خاطرې یې دي موندلي
چې ورپاده شي خوږلنه
په خیالونو کې نخـــیږي
***
ترشا پاته اوږد سفر کې
کړاوونه یې هم لیـــدلي
چې کوم درد یې ورپه یاد شي
سپیلني په شان نولـــیږي
***
لا یې غاښي دي په مخ کې
لا پیـــچومي ورته ګوري
لا د لویو غرو په څوکو
له ابهامه ډکـــې وریځې
هرکلي ته یې تاویـــږي

ددې تورو غرو تر شا به
يوه دښته وي د ګلـــــو
هر غاټول به ورته خاندي
هر ريدی به ور مسـيږي
***
ددې ښکلې دښتې پای کې
يو بورجـل به وي د مينې
د اوږده سفر ستـــړيا به
په يو دم شي ورنه ليرې
غرمزلی په دې هيـــله
پر خپل هوډ باندې پائيـــږي
***
خو دا لاره نا اشنا ده
نه هواره، نه بيديا ده
پای يې چاته مالوم نه دی
چې پر کوم ځای به ختميږي؟
***
څه خبر چې دا وروستی غر
د سفـــــر اخر منزل وي؟
د راتلونکي لفظ مانا به،
و دا غره ته رسېدل وي؟

کابل-رحمن مېنه
1384

# باور

مینې پر تا باندې باور بایللی
تهٔ رټل شوی یې د عشق له کوره
تا یې په شونډو کې هوس لټاوهٔ
تا یې په غیږه کې اورونه غوښتل
هغې د مینې باران واوراوهٔ ستا پر دښتې
خو تا هغه سپېڅلې څاڅکې،
د نیشه ناک کوکنارو سرو ګلو ته
د ودې سا بلله
تا خو خپل زړه د ژوند قمار کې وو بایللی پخوا
ستا د زړې ماڼۍ پر پلاز خو وه، د بلې ولکه
ستا خو روان پردی و
تهٔ پوهېدلې چې بې غمه بل څهٔ نهٔ ورکوې
نن چې ژړا دې ورته واوربدله
غوښن زړګی دې لړ خه ودرزېدهٔ؟؟؟
تا ته کهٔ وغواړې ښېرې وکړې نو
زه به یې دومره پوه کړم:
چې تا ته ستره سزا دا ده په دې ټوله نړۍ
نهٔ تهٔ مین شې بیا،
او نهٔ د مینې بڼ وګورې
نهٔ دې د یار خیالي خبرې، نهٔ دیدن وګورې
د پخوانۍ مینې پر خاورو دې ژوندون شي سبا
نهٔ یې کړونګی،
نهٔ یې دریاب،
نهٔ یې چمن ووینې!!

کابل_لمر ټلویزیون
1385 کال

سعدي شيرازي

# د مجنون مینه

يو چا وويل مجنون ته: نيک قدمــــه !
ولې نه راځې خپل قوم ته وجه څه ده؟

لکه سر کې چې دې شور دليلانه وي
خيال دې بل وي د ليـــلا تمنا نه وي

چې يې واوريد ، بيچاره شـــو په ژړا
ويل صاحبه ته مې پرېږده يک تنها !

زما زړه دی درد يدلـــی ، رانه پاڅه
پر زخمو مې د زړګي مالګه مه پاشه

جدايي مې نه سبب د صبـــوري ده
چې دوري کله ناکلــه ضروري ده

ويل چې څه دی ستا پيغام اې وفاداره
څو يې يوسم و ليـلا ته دې نامداره !

وې چې مه وړه زما نوم شيرين دلبر ته
حيف دی زما څه يادول چې وي دا هلته

***نوی بهار ـ کابل***

سعدي شيرازي

# پر طبيب مين

پخوا مرو کې طبيب پري چــهره وو
دزړه باغ کې جګ چنار او يو دانه وو

نه خبر د زخمي زړونو په دردو وو
نه واقف خپل د بدن په سرو ليـمو وو

حکايت کړي يو دردمن ناچار غــريب
چې څو ورځو کې ميـن شوم پر طبيب

جوړيده مې دځان نه غوښته له خدايه
چې به څي رانه طبيب له دغـه ځايه

ډير تکړه او ښه پياوړي لوی فکرونه
بري شوي پرې د مينې ځنځــيرونه

چې يې غوڅ د عقـــل تاوکـــړ د جنون لاس
بيا ونه نيو په ژوندون کې هوش خپل سرپاس

نوی ښار_کابل

سعدي شيرازي

# عقل او مینه

یو سړي په لاس د وسپني پنجه کړه    د زمري سیالي ته ئې کلکه اراده کړه
چې زمري کړ دی د خپلو پښو لاندې    زور یې ختم شو او وربل شو وربانديې

یوۀ ووې خنګه پروت یې لکه ښځه؟    پاڅه وسپني پنجې بانديې جنګ وکړه !
اوریدۀ مې چې غریب ویل له لاندي    د زمري چاره نه کیږي په دې بانديې !

چې پرپوه عقل غالب شي توده مینه    یو زمری دی بل پنجه ده اهنینه
چې اسیر شې د قوي زمري په ګوتو    بیکاره درته پنجې دي د وسپنو !

عقل یو خوا کړه که عشق درته راتله کړي    چې وورګیند دلرګي لاس کې چلیده کړي

کابل_نوی ښار

سیمین بهبهاني

# تسکین

نیمه شپه یې په ساړۀ نري بستر کې
ناله وکړله له خپلې یو سرۍ نه
په لاسونو کې یې ونیو خپل دردمن سر
په غم لوند شو، موړ له دې بې همسرۍ نه
***
یوه تونده، سوځوونکې خوږه هیله
د زړه کونج کې یې راویښه په نڅا شوه
په رخسار یې توده وینه شوه راماته
په لیمو کې یې تیاره سپینه رڼا شوه
***
یو خیالي انځور له لرو سر راوکیښ
وده یې وکړه، ځان یې ونیو راژوندی شو
یوه پېغله شوه چابکه، په تن ښکلې
په تیارو کې یې سپین مخ لکه غمی شو
***
ددې پېغلې په خبره یې نظر خوږ شو
اه چې څه ښکلی بشر یې بې مثال و
بې له صبره یې لمن ته لاس وراوږد کړ
خو افسوس چې رښتیا نه وه، یو خیال و
***
خپله غېږه یې تیارې ته کړله خلاصه
پر ژوندي خیال یې متې ټینګې کړلې
قدمونو کې یې اوښکې کړلې تویې
پر لمن یې لمدې سترګې وموښلې
***
د خیالي انځور بشر یې په ناز ښکل کړ
مچه یې وا خیسته خو خپل له سپېره لاسه
په غاښو یې کړه راټینګه ورته شونډه
خپله شونډه یې زخمي کړه، بې مواسه

***
د تودې هوا څپو، د سپو غپاوو
د هغهٔ خيالي انځور ورته پاره کړ
د غوماشو بې مداره چيچېدل يې
بې درمانه درد له سره ور تازه کړ
***
له بستره شو راجګ، په ځای کې کيناست
پر سپېرو شونډو يې بل د سګرټ اور کړ
ناکراره سلاکار د انديښنې يې
و نظر ته يو اوږد ليک په کاغذ تور کړ
***
په دې ليک کې يې ليده هغه نومونه
چې په ظلم کې هوسا هوسراني کړي
ولس کښېنوي زبېښاک ته او پخپله
له غمونو ليرې خوښه زنده ګي کړي
***
هغه کس چې هره شپه له تود هوسه
و بستر ته رابلي پېغله يا ښځه
په ورځ هڅه د يوې ښکلې د ښکار کړي
په ماښام يې زړګی تللی وي پر بله
***
په بستر کې دا د مار په شان تاوېږي
خو دا سوځنده احساس د خپل ارام کړي
هغه بل په هره شپه له ډېر هوسه
پر پالنګ يو بل بې واره صنم رام کړي
***
د تسکين سره زبېښونکې څپه راغله
د غبار په شان يې ښه ورسپېره کړه
د دې يخې څپې لاندې وې سکروټې
د کينې لمبه يې لږ شانته دمه کړه

کابل- لمر تلويزيون
د 1385 کال د وږي مياشت

# د معيني کرمانشاهي ښکلي بيتونه

لکه شمع زه ژوندی يم په سوځولو
که ونه سوځم ، نو ځم به له جهانه
***
دا څـه راز دی د سـهار په ايينه کې
چې مخلوق د خدای زيږښيي ترهربل ورځ
***
هرڅه وګرځيد م ښارکې، پيـدا نشو
يو د زړه اهل چې پوه شي زما په درد
***
چې يې ترڅنګه د قامت ما هـغه زوز ونه لـيد
خدای کړمه ړوند هغه ساعت چې مې ويارته کتل
***
موړمې کړه له مينې، ځکه هغه کوم پتنګ چې
نه وي ستي شوی، په سل ګلـو به تاويږي
***
هغه وخت مينه کړې ته پيل، چې عمرتېرشي زما
ګل د مريم کړې غوړېده چې د خزان واری شي
***
چې ستا فـراق را اخخه يوو ړ د ويلو توان
په کومه ژبه زه بيان ستاد هجران وکړمه؟
***
چينه چې له ډبرو رابهيږي زه حيران يم
د اوښکو سرچينه مې ولې زمادا نرم زړه دی؟